پانزده روزه

# سره میاشت

ارگان نشراتی جمعیت هلال احمر افغانی

د افغاني سرې میاشتې ټولنه — جمعیت هلال احمر افغانی



گڼه: ۱۶

نېټه: ۱۶- ۲۹ شعبان المعظم - ۱۴۴۴ هـ ق

## دوحې ته د افغاني سرې میاشتې
## د سرپرست عمومي رئیس سفر او لاس ته راوړنې




د افغاني سرې میاشـتې سرپرسـت عمومي رئیس مولوي مطیع الحق خالص د روان ۱۴۴۴ سپوږمیز کال د شعبان المعظم پر ۱۶مه د یو لوړ پوړي پلاوي په مشرۍ افغانستان سره د بشري مرستـــو د جلب او د بشري مرستـــو پر وړاندې د شته ستونزو د حل په موخه د قطر پلازمېنې دوحې ته سفر وکړ. د یادسفر پر مهال د ګڼو لیدنو په ترڅ کې نوموړي لومړی لیدنه د افغانستان لپاره د بریتانیې د سفارت سرپرستې نصیره اشرف او د پرمختیایي او سیاسي اُمورو مســـــؤل جانتن تام سره ترسره کړه. یاده ناسته کې د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس مولوي مطیع الحق خالص د بریتانیا د تېرو بـشري مرستو مننه وکړه او غوښتنه یې وکړه، چې تېر ۴۰ کلن ناورین افغانان له فزیکي، روحي او اقتصادي پلوه سخت ځپلي، ځــــکه یې باید لا زیات لاسنیوی وشي او په شویو مرســــتو اکتفا ونشي. نـوموړي وویل "افغانان په یو ناوړه حالت کې دي او تېر ۴۰ کلن ناورین افغانان، چې ډېری یې ښــــځې او ماشـومان دي؛ د نورو سـختو ناروغیو ترڅنګ په رواني ناروغیو اخته کړي، چې اوس پوره لاسنیوي او درملنې ته اړتیا لري؛ افغاني سرې میاشتې پر خپل لګښــت د رواني ناروغانو، د سـوري زړه په ناروغۍ د اخته ماشـومانو او د غُربت له امله نورو ته د لاس نیوونکو وګړو تر یوې کچې لاســنیوی کړی، خو دا چې د یادو ناروغانو شــمېر هره ورځ په زیاتېدو دی؛ نو ځکه یې د درملنې او ساتنې لګښــت د افغاني سرې میاشتې له وس پورته شوی." ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص وویل "د افغاني سرې میاشتې د رواني ناروغانو د ساتنې مرکزونه ۴ ولایتونو کــې فعال دي او هڅه مو ده دغه لــړۍ نورو زونونو ته هم وغځوو". نوموړي وویل "د زړه د ســوري په رنځ د اخته ماشـومانو د ثبت او درملنې بهیر په چټکۍ روان دی، چې تر اوسه له افغاني سرې میاشتې سره ۲۴۷۴۳ ماشـومان ثبت شـوي، چې په کې د نیمایي درملنه شوې، خو دغه بهیر زیات لګښــت ته اړتیا لري، چې د افغاني سرې میاشتې له توانه پورته کار دی؛ مونږ هیله من یو د بـریتانیا په ګډون نـړیوال په دې برخه کې د افغاني سرې میاشتې لاسنیوی وکړي او اړینه ده بریتانیا زمونږ د هغو هېوادوالو په لاسنیوي، کار، حِرفوي زده کړو او له دې لارې د هغوی پر خپلو پښــو درېدو کې د افغاني سرې میاشتې لاسنیوی وکړي، چې د غُربت له امله نورو ته د محتاجۍ لاس ورغځوي"...

۲/مخ

## سرپرست ریاست عمومی هلال احمر افغانی
## با نماینده گان سازمان همکاری اسلامی برای افغانستان دیدار نمود

ORGANISATION OF ISLAMIC COOPERATION

به تاریخ ۱۵ شعبان المعظم محترم مولوی مطیع الحق "خالص" سرپرست ریاست عمومی هلال احمر افغانی با آقای طارق علی بخیت نماینده خاص سازمان همکاری اسلامی برای افغانستان و آقای داکتر محمد سعید العیاش نماینده سازمان اسلامی همکاری در افغانســتان دیدار به عمل آورد.

در این ملاقات محترم مولوی مطیع الحق "خالص" از آقای طارق علـــی بخیت که به نیازمندی های مردم فقیر افغانستان توجه مبذول داشته اند، اظهار قدر دانی به عمل آورد.

موصوف ضمن کمک به آسیب دیده گان حوادث، در زمینه کمک های نقدی به خانواده های متگدیان، حفاظت و تداوی بیماران روانی و اطفال مبتلا به بیماری ســوراخ قلب از طریق هلال احمر افغانی، خواهان همکاری و کمک سازمان همکاری های اسلامی گردید.

وی گفت: "این سه بخش مصـــارف هنگفتی دارند و هلال احمر افغانی به تنهایی خویش نمی تواند این بار را تحمل نماید، امیدواریم که سازمان همکاری اسلامی با هلال احمر افغانی در این زمینه ها همکاری نماید".

به همین ترتیب وی گفت: "هلال احمر افغانی تلاش می ورزد تا از طریق آموزش های مســـلکی برای بیوه ها، معلولین و خانواده های فقیر فرصت های کاری را فراهم نماید، اما در این زمینه ها نیز نیاز به کمک و همکاری دارد".

نماینده خاص سازمان همکاری اســلامی آقای طارق علی بخیت ضـمن ابراز اطمینان از هرگونه همکاری در زمینه های مذکور، در ایجاد مرکز اعضـای مصــنوعی هر نوع کمک و همکاری را با هلال احمر افغانی نیز وعده سپرد.

در این نشست هر دو طرف پیرامون کمک هـــای بشردوستانه، ادامه روابط مستحکم و دوامدار دوجانبه وهمکاری ها تاکید نمودند.

## سـرمـقاله



### آماده گی ها در موسم بارنده گی ها

بهار، فصل طراوت و شادابی و تجدید حیات طبیعت است. اما چه بهتر از این که از این همه موهبات الهی، برای بهره مندی های بهتر و بیشتر، از این فرصت ها استفاده های به جا نموده تا باشد هم برای شگوفایی اندیشه ها و هم برای آبادی ویرانه ها، مصـدر خدمت شایسته گردیم. با الهام از این پیام بهاری، بایست بـشر به فطرت انسانیت و معنویت خویش رجعت نماید.

یکی از خصوصیات معنویت انسان، خدمت گــذاری به بـــــشریت است. یقیناً که تنها الله سبحان و تعالی می تواند به دل های مخلوقاتش آرامش و سکون آورد و انسان ها را از ظلمت ظلمانی به نور رحمت رحمانی هدایت و رهنمایـی نماید و در کنار آن؛ خدمت به خلق الله، نیز عبادت است و عبادت هم مایه رضایت و سکونت. پس بهار پیام دهنده آنست تا برای خدمت به بشریت، روزگـــارسرد و سیاه نیازمندان و آسیب دیده گان را به بهار گرم قرین سعادت سازیم و بهار لبخند را بر چهره بیوه ها، ایتام و فقرای جامعه سبز نمائیم.

اما نباید فراموش کرد که با آمدن این فصــل به استقبال حوادث ناگوار طبیعت نیز خواهیم شتافت، زیرا کشــور ما با همچو موقعیت جغرافیایی و داشتن اقلیم متفاوت در این فصــل، شــاهد وقوع حوادث طبیعی زیانباری بوده و تجارب تلخی را در اذهان مردم ثبت نموده است. فصل سرما با برفباری ها و مشکل هایش سپری شد و حالا که موسم ریزش باران ها می باشــد؛ مردم به چالش های تازۀ رو برو می شــوند؛ برای این که با ریزش باران های متواتر و شدید در مناطق سیلاب خیز، خطرات احتمالی سیلاب ها و لغزش زمین بیشـــتر احســـاس میشود.

نیازمندی های جامعه در این فصــل بیشـــتر گردیده و عدم دسترسی به این چالش ها، می تواند میزان آسیب پذیری ها را ازدیاد بخشـــــد. از اینرو؛ بروز حوادث طبیعی در روند زندگی مردم تاثیرات سوء به جا می گذارد که جاری شدن سیلاب ها منجر به تخریب سرک ها و راه های مواصلاتی در برخی از مناطق می گردد. از اینرو، علاوه بر قطع شدن مســیر عبور و مرور، روند پاسخدهی به حوادث نیز دچار مشـــکل می گردد که این خود چالش بزرگ در راستای عملیات پاسخ دهی به حوادث اضطراری و دستگیری از آسیب دیده گان در اسرع وقت می باشد.

مردم آسیب دیده که شدیداً نیازمند کمک های بشری در بخش های صحی، سرپناه، مواد غذایی و غیر غذایی، آب آشـــامیدنی فوری و به موقع می باشـــند، مرفوع ســـاختن این نیازمندی ها در محراق توجه هلال احمر افغانی قرار دارد. هلال احمر افغانی برای حفظ حیات و صـــحت هموطنان آســیب دیده از اثر حوادث با تقبل چالش ها و تحمل فراز و فرودها، جهت نایل شدن به اهداف عالی بشری از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نورزیده و به عنوان بزرگترین مکلفیت وظیفوی، بیشتر روی آن تمرکز نموده است.

هلال احمر افغانی، همواره در پی آن بوده که راهکار های مؤثر و متناســب را در جامعۀ که معروض به همچو رویداد های ناشی از طبیعت اند، پیشـــــکش نماید. با نگرش تجارب گذشته به ویژه در نظام اسلامی موجود پلان های وسیع و لازم پاسخدهی را برای آسیب دیده گان حوادث طبیعی طرح، زمینه های تطبیق آن را فراهم و آماده گی های لازم را روی دست دارد.

اما این فرایند را ما بسنده و کافی نمی دانیم، بلکه با توکل و نصرت الهی می کوشیم تا زمینه های گســترده تر را که بتواند پاسخگوی تمام مشـکلات آسیب دیده گان باشد و نیازمندی های نیازمندان را مرفوع نماید، به طور فراگیر و منسجم پیشکش نمائیم.

## لوګر، پروان او کاپیسا ولایتونو کې ۱۲۸۰ کورنیو سره مرسته وشوه

د شعبان المعظم په ۸مه نېټه د افغاني سرې میاشتې له لوري لوګر ولایت ازرې ولســوالۍ کې ۵۰۰ اړمنو کورنیو سره د ۶ قلمه خوراکي توکو مرسته وشوه.

یاده مرسته کې ټولټال ۲۰ ټنه اوړه، ۲،۵ ټنه وریژې، ۲،۵ ټنه غوړي، ۲،۵ ټنه لوبیا، ۲،۵ ټنه بوره او ۱ ټن خرما شامل و.

همدا شان د شعبان المعظم په ۲۱ او ۲۳مه یادو ولایت خروار ولســوالۍ کې ۳۵۰ کورنیو او پروان ولایت سالنګ ولســوالۍ کې ۳۵۰ اړمنو کورنیو ته هم د غیر خوراکي توکو مرسته، چې د قطر د سرې میاشـــتې په مالي ملاتړ چمتو شــــوې وه؛ هرې کورنۍ ته ۴ تختې کمپلې او ۱ تخته ترپال وویشل شول.

په ورته وخت کاپیســـا ولایت مرکز کې ۸۰ بې ځایه شویو کورنیو سره هم د غیر خوراکي توکو مرسته ترسره شوه.





## ۵ ولایتونو کې ۳۰۰۰ کورنیو ته د روغتیا ساتنې توکي ووېشل شول

د روان کال د شـعبان المعظم په میاشــت کې د افغاني سرې میاشــتې له لوري کندهار، کندز، سرپل، غور او فراه ولایتونو کې ۳۰۰۰ کورنیو ته د روغتیا ساتنې بستې ووېشل شوې.

یاد مرسته شوي توکي د کندهار ولایت په تخته پل ولســوالۍ کې ۵۰۰ کورنیو، کندز ولایت په دشت ارچي، قلعه زال او مرکز کې ۱۰۰۰ کورنیو، سرپل ولایت ګوسفندي ولســوالۍ کې ۴۰۰ کورنیو، غور ولایت الفاروق ولســـــوالۍ کې ۴۰۰ کورنیو، د فراه ولایت په ګلســـــتان ولسوالۍ کې ۴۰۰ کورنیو او دلاش جوین ولسوالۍ کې ۳۰۰ کورنیو ته ووېشـل شول. چې په کې بېګ، ســـطل، د اوبو ډبې، لاس پاکونه، د لاس وینځلو صــــابونونه، د کالیو وینځلو صابونونه، د غاښـونو کریم، د غاښـونو برسـونه، شـامپو، صـابون دانۍ، لوټه او معلوماتي پاڼې شامل و.



## کمپاین نهال شانی از جانب هلال احمر افغانی راه اندازی گردید

هلال احمر افغانی با راه اندازی کمپاین های نهال شانی و پاک کاری محیط از فصــــل بهار استقبال به عمل آورد که به همین ترتیب روند غرس ۵۵۰ اصـــله نهال مثمر و زینتی در محوطه دفتر مرکزی هلال احمر افغانی به تاریخ ۲۱ شـــعبان المعظم آغاز گردید.

گفتنی است طی دو هفته گذشته کارمندان و رضـاکاران هلال احمر افغانی در ولایت های پنجشـــیر، پروان، میدان وردگ، کاپیسا، بدخشـان، غور، ارزگان، خوست و تخار با راه اندازی کمپاین های وســیع نهال شـانی و پاک کاری صــحن دفاتر نماینده گی ها و سایر تأسیسات هلال احمر افغانی پرداخته که طی آن صـــد ها اصـــله نهال مثمر و غیر مثمر و انواع گل های تزئینی غرس گردیده است.

نهال شانی علاوه بر زیبایی و طراوت؛ برای حفظ محیط زیست سالم عاری از آلوده گی هوا قابل اهمیت می باشـد، از این رو؛ هلال احمر افغانی تلاش مـی ورزد تا تأثیرات منفی تغییرات اقلیمــــی را کاهش دهد که به همین منظور، چندی قبل هلال احمر افغانی در ولایت هرات ده ها هزار اصـــله نهال مثمر را به صد ها تن باغداران ولایت هرات توزیع نموده بود.

پته: افغانستان، کابل، پینځمه ناحیه، سیلو افشار، د افغاني سرې میاشتې مرکزي دفتر

د اړیکو شمېرې: ۰۷۲۸۹۰۰۶۷۴

پست بکس: ۳۰۶۶

info@arcs.af www.arcs.af

Afghan Red Crescent Society

افغاني سره میاشت د طبیعي او غیر طبیعي پېښو زیانمنو او هغو سیمو ته، چې خلک روغتیایي مرکزونو ته لاسرسی نه لري؛ روغتیایي خدمتونه ترسره کوي.

## دوحې ته د افغاني سرې میاشتې د سرپرست ...

...آغلې نصیره اشرف د باوري اداري په توګه د افغاني سرې میاشتې د خدمتونو او بیوزلو ته د مرستو رسولو ستاینه وکړه او ژمنه یې وکړه، چې دوی به د افغاني سرې میاشتې تر شا ولاړ وي، خپلې مرستې به جاري ساتي او د افغاني سرې میاشتې په پیل کړو پروژو کې به لازمه همکاري وکړي. نوموړې وویل "مونږ په بشري مرستو کې له افغاني سرې میاشتې سره همکارۍ او همغږۍ ته لېوال یو."

ورپسې دویمه ناسته د ICRC د نړیوالې کمیټې له مشرې میرجانا سپولجاریک ایګر او مل پلاوي سره ترسره شوه. یاده ناسته کې د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص د روغتیا او په نورو برخو کې د ICRC د نړیوالې کمیټې د همکارۍ مننه وکړه او د افغانستان پر اوسني وضعیت، ستونزو، اقتصادي ناورین او یو شمېر نورو موضوعاتو یې خبرې وکړې.

نوموړي وویل "افغاني سره میاشت په خپل لګښت د رواني ناروغانو درملنه او ساتنه، د سوري زړه په ناروغۍ د اخته ماشومانو او د کونډو او بې سرپرسته کورنیو ساتنه او پالنه کوي، خو دا چې د یادو وګړو شمېر مخ په ډېرېدو دی او د افغاني سرې میاشتې بودیجه ورته کفایت نه کوي؛ نو ځکه اړتیا ده د ICRC نړیواله کمیټه افغاني سرې میاشتې ته یادو برخو کې د مرستې او جدي همکارۍ لاس ورکړي او له افغانستان سره د مرستو غږ تر نړیوالو مرسته کوونکو ورسوي.

ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص د ICRC د نړیوالې کمیټې له مشرې غوښتنه وکړه، چې د افغاني سرې میاشتې له لارې د هېواد په هغو ولسوالیو کې روغتیایي او نور بشري خدمات پیل کړي، چې تېرو جګړو سختې ځپلې، خو تر اوسه په کې هېڅ ډول بشري او روغتیایي خدمات ندي شوي.

د ICRC د نړیوالې کمیټې مشرې په بشري خدماتو کې د افغاني سرې میاشتې پر شفافیت د خوښۍ او تائید تر څنګ ژمنه وکړه، چې د یادو برخو د پرمخ وړلو او پراختیا لپاره به هڅې کوي او کوښښ به کوي، چې نور مرسته کوونکي بنسټونه هم له افغاني سرې میاشتې سره مرستو ته راوبلي. نوموړې د افغاني سرې میاشتې له لوري په بشري مرستو کې ښځو او ماشومانو ته پر مساوي مرستو خوښي څرګنده کړه.

دریمه ناسته د افغانستان لپاره د جنوبي کوریا له شارژدافیر مون سنګ هان سره وشوه. په دې ناسته کې د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص افغانستان سره د جنوبي کوریا له کړو بشري مرستو مننه وکړه او د نورو مرستو غوښتنه یې وکړه. نوموړي وویل "افغانستان کې دا مهال د رواني ناروغانو او بې سرپرسته وګړو لاسنیوي ته سخته اړتیا ده؛ تر څو د دوی ساتنه او پالنه وشي. همدا ډول بې سرپرسته کورنیو ته حِرفوي زده کړې کولی شي دوی له بېوزلۍ وژغوري". نوموړي د جنوبي کوریا له شارژدافیر وغوښتل، چې په دې برخو کې افغاني سرې میاشتې ته لاس ورکړي او خپلې مرستې جاري وساتي.

د جنوبي کوریا شارژدافیر ښاغلي مون سنګ هان ډاډ څرګند کړ او ژمنه یې وکړه، چې له افغانستان سره به خپلې بشري مرستې رواني وساتي او بې سرپرسته کورنیو سره به د حِرفوي زده کړو په برخه کې لازمه همکاري کوي.

نوموړي وویل "مونږ د تېر په څېر د افغاني سرې میاشتې تر شا ولاړ یو او هڅه به وکړو، چې مرسته کوونکو بنسټونو ته د افغانانو اوسنی انځور او د بشري مرستو اړتیا ور وړاندې کړو."

ورپسې ناسته د قطر د سرې میاشتې له سکرتر جنرال فیصل محمد العمادي سره ترسره شوه. نوموړې ناسته کې د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس د قطر له سرې میاشتې او حکومت څخه له افغاني سرې میاشتې سره په بېلابېلو برخو کې د پرلپسې مرستو او همکارۍ د مننې تر څنګ د افغاني سرې میاشتې پلاوي ته دوحې ته د سفر او د یو شمېر سفارتونو او خیریه ټولنو له مسؤلینو سره لیدنو ته د لارې د هوارې مننه هم وکړه او هیله یې څرګنده کړه، چې د قطر سره میاشت به له افغانستان سره خپلې بشري مرستې رواني وساتي. نوموړي وویل "زمونږ هیله ده د قطر سره میاشت په افغانستان کې د بې سرپرستو او یا نورو ته د مرستې لپاره لاس غځوونکو کورنیو د اقتصادي ستونزو حل کولو کې افغاني سرې میاشتې ته د مرستې او همکارۍ لاس ورکړي؛ تر څو افغاني سره میاشت دوی ته د حِرفوي زده کړو مرکزونه جوړ کړي او له دې لارې وکړای شي پر خپلو لاسونو د خپلو کورنیو کفالت وکولی شي".

همدا ډول د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس د قطر له سرې میاشتې د سوري زړه په ناروغۍ د اخته ماشومانو د درملنې په برخه کې همکاري او مرسته وغوښته، چې د قطر د سرې میاشتې د سکرتر جنرال ښاغلي فیصل محمد العمادي له لوري د همکارۍ د ډاډ تر څنګ د حِرفوي زده کړو د مرکزونو په برخه کې هم د مرستې ډاډ څرګند شو. ښاغلي فیصل محمد العمادي وویل "مونږ د افغاني سرې میاشتې پر کړنو او شفافیت بشپړ باور لرو او د همدې اعتماد او وروړۍ پر بنسټ په روان سخت وضعیت کې د افغاني سرې میاشتې تر څنګ ولاړ یو او د سوري زړه په ناروغۍ د اخته ماشومانو د درملنې د برخې تر څنګ به د حِرفوي زده کړو او بې سرپرستو کورنیو په برخه کې هم لازمه همکاري وکړو". نوموړي وویل "له افغاني سرې میاشتې سره پیل کړې پروژې رواني ساتو او هڅه کوو له همدې لارې په افغانستان کې نوې پروژې پیل کړو". نوموړي وویل "د راتلونکې روژې په مناسبت افغانستان کې یو شمېر پروګرامونه لرو، چې د افغاني سرې میاشتې په همغږۍ به یې ترسره کړو."

پینځمه ناسته هم د سینګاپور د سره صلیب له سکرتر جنرال بینجامن جي ویلیم سره وه. ددې ناستې په پیل کې د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس د سینګاپور له سره صلیب مننه وکړه، چې د افغاني سرې میاشتې له لارې یې له افغانانو سره مرستې کړې. نوموړي د افغاني سرې میاشتې پر روغتیایي خدماتو، بې وزلو کورنیو سره پر مرستو، د رواني ناروغانو د پالنې، ساتنې او درملنې پر مرکزونو او را روانو فعالیتونو له وضاحت وروسته وویل "افغاني سرې میاشتې تېر کال د سوري زړه په ناروغۍ د اخته ماشومانو درملنې ته دوه میلیون ډالر بودیجه ځانګړې کړې وه، خو د ناروغانو د شمېر د ډېرښت له امله اوس ډېر لګښت ته اړتیا ده، خو افغاني سره میاشت د لازم لګښت او امکاناتو د کمښت له امله د ټولو ناروغانو د درملنې وس نه لري؛ اړینه ده په دې برخه کې ملي ټولنې د همکارۍ لاس ورکړي ."ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص وویل "افغاني سرې میاشتې په تېر شاوخوا یو کال کې درضاکارانو په لاس نېږدې درې سوه زره کورنیو ته نغدي او د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې رسولې".

ناسته کې د سینګاپور د سره صلیب سکرتر جنرال بینجامن جي ویلیم د افغاني سرې میاشتې درضاکارانو د بهیر، روغتیایي خدماتو او نورو خدماتو د ستاینې تر څنګ په افغانستان کې د افغاني سرې میاشتې له لارې د تېر په څېر د بشري مرستو برخو کې فعالیت ته لیوالتیا وښوده او ژمنه یې وکړه، چې له افغاني سرې میاشتې سره د هوکړه لیک له ترلاسه کولو وروسته به د سوري زړه په ناروغۍ د اخته ماشومانو او رواني ناروغیو د درملنې او یو شمېر نورو برخو لپاره په خپل هېواد کې د انلاین مرستو راټولولو بهیر پیل کړي". نوموړي وویل "هود لرو افغانستان ته یو شمېر کارکوونکي ولېږو او د افغاني سرې میاشتې د فعالیتونو او اړتیاو له نېږدې لیدو وروسته به له یو شمېر خیریه ټولنو مرسته راجلب او د افغانانو غږ تر مرسته کوونکو ورسوو".

شپږمه ناسته د قطر الخیریه بنسټ د بهرنیو پېښو د مسؤل خالد عبدالله الیافعي سره ترسره شوه. ناسته کې د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس د قطر الخیریه بنسټ مننه وکړه، چې له دې وړاندې یې د افغاني سرې میاشتې له لارې افغانانو سره بشري مرستې کړې او په سخت حالت کې د افغانانو تر څنګ دریدلی. نوموړي وویل "د قطر الخیریه مرستې مونږ ته مهمې دي او مونږ هیله لرو، چې د تېر په څېر د افغاني سرې میاشتې له لارې له افغانانو سره مرستو ته دوام ورکړي، ځکه افغاني سره میاشت له هر چا زیاته د ولس له ستونزو باخبره اداره ده او مرستې په شفاف ډول اړمنو سیمو ته تنظیموي ."

ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص وویل "افغانستان تېرو ۴۰ کلنو جګړو سخت ځپلی او د زیات شمېر کونډو او یتیمانو په ګډون زیات معیوبین هم لري، چې حِرفوي زده کړو ته یې اړتیا ده؛ له خیریه بنسټونو مو هیله ده، چې د افغانانو لاسنیوي ته را وړاندې شي او له پامه یې ونه غورځوي."

نوموړي وویل "افغاني سرې میاشتې تېرو اتو میاشتو کې د سوري زړه په ناروغۍ د ۱۷۵۷ اخته ماشومانو درملنه کړې، چې په هر ماشوم تر دوه زره امریکایي ډالرو لګښت کېږي، خو دا چې د ناروغانو ثبت مخ په ډېرېدو دی، نو ځکه د ټولو درملنه د افغاني سرې میاشتې له وس وتلې؛ مونږ هیله لرو په دې برخه کې د قطر الخیریه په څېر خیریه بنسټونه مونږ ته د همکارۍ لاس راکړي."

د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس همدا ډول وویل "افغاني سره میاشت دا مهال په کابل، کندهار، هرات، بلخ او ننګرهار کې د ښځینه او نارینه رواني ناروغانو د درملنې او ساتنې مرکزونه لري، چې کلنی لګښت یې شپږ میلیون ډالر دی؛ هیله من یو نړیوالې خیریه ټولنې ددې بهیر په پرمخ وړلو کې د افغاني سرې میاشتې لاسنیوی وکړي."

د قطر الخیریه بنسټ د بهرنیو پېښو مسؤل خالد عبدالله الیافعي د افغاني سرې میاشتې د فعالیتونو د ستاینې تر څنګ په یادو برخو کې افغاني سرې میاشتې ته د لاس ورکولو ډاډ څرګند کړ او ویې ویل "مونږ له افغانانو سره مرستې ته لیوالیو او غواړو د کونډو او یتیمانو د پالنې، د بې سرپرسته کورنیو د لاسنیوي او دوی ته د حِرفوي زده کړو او نورو بشري مرستو برخو کې د افغاني سرې میاشتې لاسنیوی وکړو او له افغاني سرې میاشتې سره خپله همکاري روانه وساتو".

په همدې ورځ د قطر فنډ د پرمختیایي پروژو مسؤل ښاغلي سلطان بن احمد العسیري سره هم ناسته وشوه. په دغه ناسته کې د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس وویل "افغانستان ۴۰ کلنو جګړو له هر اړخه ځپلی او لاسنیوي ته اړتیا لري؛ له مرسته کوونکو بنسټونو مو هیله ده، چې د افغانانو لاسنیوی وکړي او د بېوزلو افغانانو تر څنګ ودرېږي". نوموړي وویل "له افغاني سرې میاشتې سره د سوري زړه په ناروغۍ د اخته ماشومانو د ثبت شمېره په لوړېدو ده، چې افغاني سره میاشت یې په یوازې ځان توان نه لري؛ زمونږ هیله ده چې بشرپال بنسټونه افغاني سرې میاشتې ته لاس ورکړي؛ تر څو د سوري زړه په ناروغۍ د اخته ماشومانو د درملنې وس ومومي". ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص له قطر فنډ هیله وکړه، چې د بې سرپرسته کورنیو د لاسنیوي او د رواني ناروغانو په درملنه او ساتنه کې افغاني سرې میاشتې ته د همکارۍ لاس ورکړي.

د قطر فنډ د پرمختیایي پروژو مسؤل ښاغلي سلطان بن احمد العسیري د افغاني سرې میاشتې د فعالیتونو د ستاینې تر څنګیادو برخو کې افغاني سرې میاشتې ته د لاس ورکولو ډاډ څرګند کړ او ویې ویل "مونږ له افغانانو سره د مرستې هیله لرو او هڅه به وکړو، چې د افغاني سرې میاشتې له لارې د افغانانو لاسنیوی وکړو او د زرګونو تنو اړو د مرستې پروژه د افغاني سرې میاشتې له لارې تنظیم او پلې کړو."



## با خانواده های متگدی در زون غرب کمک نقدی صورت گرفت

کمک به نیازمندان یکی از اهداف اصلی هلال احمر افغانی شمرده می شود که در این رابطه یک سلسله کمک های نقدی برای ۲۰ خانواده متگدی در مرستون زون غرب صورت گرفت. در این کمک به هر خانواده مبلغ ۵۰۰۰افغانی که مجموعاً مبلغ ۱۰۰۰۰۰ افغانی می شود، توزیع گردید.

قابل ذکر است، پیش از این نیز به ۲۲۱۲ متگدی در ولایات کابل و هرات مبلغ ۴۴۲۴۰۰۰ افغانی کمک نقدی مساعدت گردیده بود.

## با ۷۲۵۵۴ تن در ۹ ولایت عرضه خدمات صحی صورت گرفت

از جانب هلال احمر افغانی در ۹ ولایت در جریان یک ماه با ۷۲۵۵۴ تن هموطنان ما که به سهولت های صحی دسترسی نداشتند، در بخش های داخله، واکسین، صحت طفل و مادر، پانسمان، تعلیمات صحی، معاینات، سوء تغذی، ولادی و نسایی و بخش های دیگر عرضه خدمات صحی صورت گرفت.

خدمات مذکور که در ولایت های هرات، بادغیس، کابل، نورستان، کنر، غزنی، پکتیکا، پروان و پنجشیر انجام یافت، مردم از عرضه خدمات رایگان توسط کارکنان صحی کلینیک های ثابت و تیم های سیار هلال احمر افغانی ابراز خرسندی و سپاسگزاری به عمل آوردند.



## د سوري زړه په ناروغۍ اخته ۲۱ ناروغ ماشومان روغتونونو ته ور وپېژندل شول

افغاني سرې میاشتې د شعبان پر ۱۳مه د سوري زړه په ناروغۍ اخته ۲۱ تنه ماشومان پلازمېنه کابل کې د درملنې په موخه اریانا او حاجي امیرزاده روغتونونو ته ور وپېژندل.

د یادونې وړ ده، چې افغاني سرې میاشتې له تېرو ۷ میاشتو راهیسې بېلابېلو روغتونونو ته د سوري زړه په ناروغۍ اخته ۷۲۸ تنه ماشومان ور پېژندلي، چې د درملنې ټول لګښت یې د افغاني سرې میاشتې په غاړه دی.



## ننګرهار او بادغیس ولایتونو کې ۳۴۰ تنه رضاکارانو ته د عامه پوهاوي غونډې تر سره شوې

د شعبان المعظم په ۹مه، ۱۳مه او ۱۴مه نېټه د ننګرهار ولایت د شېرزادو ولسوالۍ په مرکیخیلو، ماما خیلو او توتو په کلیو او د بادغیس په مرکز کې ۳۴۰ تنه ښځینه او نارینه رضاکارانو ته د (او ار اس) محلول جوړول، د ساري ناروغیو خپرېدلو مخنیوې او کوېډ ۱۹ ناروغۍ د پوهاوي په اړه جلا جلا غونډې د روزل شویو ښځینه او نارینه رضاکارانو له لوري تر سره شوې. د غونډو په پای کې درضاکارانو له لوري کور په کور د پوهاوي کمپاین هم تر سره شو.



## ننګرهار، کنډز او غور ولایتونو کې ۱۸۷۵ وچکالۍ ځپلو بزګرانو سره د کیمیاوي سرې مرسته وشوه

د شعبان په ۲۰مه، ۲۱مه او ۲۲مه نېټه د افغاني سرې میاشتې له لوري ننګرهار ولایت حصارک او شېرزادو ولسوالیو کې ۶۲۵ تنو، کندز ولایت علی اباد ولسوالۍ کې ۶۲۵ تنو او غور ولایت کې ۶۲۵ تنو وچکالۍ ځپلو بزګرانو سره د کیمیایي سرې (سونا یوریا) مرسته ترسره شوه. یاده ۲۸۱تنه مرسته کې هرې کورنۍ ته ۱۵۰ کیلو ګرامه زراعتي سپینه سره ورکول شوه.



## د پېښو په مدیریت کې د روغتیایي خدمتونو ارزښت

شمس الدین "نوری"

افغاني سرې میاشتې د یوه ملي خیریه بنسټ په توګه خپلو لوړو بشري موخو ته د رسېدو لپاره، چې هغه د اړمنو او پېښځپلو لاسنیوی دی؛ د کوټلو ګامونو په اخیستلو سره د روغتیایي خدمتونو په وړاندې کولو او پېښو ته د ځواب وینې په برخه کې اغېزمن فعالیتونه ترسره کړې دي.

له بل لوري افغاني سره میاشت د روغتیا په برخه کې د دولت د ملاتړي په توګه د هغو وګړو لاسنیوی کوي، چې روغتیایي اسانتیاو ته لاسرسی نه لري. د روغتیایي خدمتونو له وړاندې کولو د افغاني سرې میاشتې موخه په ټولنه کې د وګړو د روغتیا ساتنه ده، نو د همدې موخې لپاره د روغتیا څانګې کارکوونکي په پېښځپلو ټولنو کې له پېښې وروسته له ناوړه پایلو د مخنیوي په موخه په بشپړه همغږۍ ونډه اخلي.

پېښو ته په ځواب وینه کې د روغتیا رول ته ارزښت ورکول د افغاني سرې میاشتې په لومړیتوب کې ځای لري. همدارنګه د روغتیا د نړیوال سازمان په څلورشپېتمه نړیواله غونډه کې، چې د ۲۰۱۱ زیږدیز کال په مې میاشت کې دایره شوې وه، په کې په بېړنیو حالتونو کې د پېښو د مدیریت په برخه کې د ظرفیتونو او ملي روغتیایي سیستمونو د پیاوړتیا په اړه یو پرېکړه لیک تصویب شو. د پېښو مدیریت په نړیواله کچه یوه ډېره مهمه موضوع ده، چې هېوادونه ورته هڅول کېږي؛ تر څو له نړیوالو ژمنو سره سره بیا هم د روغتیایي سیستمونو د پیاوړتیا په برخه کې خپل چمتووالی ښه او لوړ کړي.

**د روغتیایي بېړني مدیریت پلي کول او د پېښو ګواښونه:**

دا چې روغتیایي سیستمونه د پېښو پر مهال د مرګ ژوبلې او ناوړه پایلو په کابو کولو او مدیریت کې مهم رول لري، نو د روغتیا څانګه هم د ساري ناروغیو په مدیریت او له خپرېدو څخه یې د مخنیوي په برخه کې ځانګړی ارزښت لري. همدارنګه د طبیعي، ټکنالوژیکي او یا ټولنیزو ګواښونو له امله په پېښو او بېړنیو حالتونو کې تر ټولو ټیټې کچې ته د ناوړه روغتیایي پایلو راوستل هم د دې موضوع ارزښت ډېروي.

په داسې حال کې چې د نړۍ ډېری هېوادونه د نړیوالو روغتیایي مقرراتو له لارې د روغتیایي ګواښونو د کمښت په موخه خپل روغتیایي سیستمونه پیاوړي کړي، خو بیا هم ځینې ټولنې له ګڼو روغتیایي ستونزو سره مخ کېږي.

د روغتیا نړیوال سازمان روغتیایي څانګو او ګټه اخیستونکو ته د عمومي نظر وړاندې کولو لپاره د روغتیا او پېښو ګواښونو ته د ځواب وینې په موخه د مدیریت یو سیستم رامنځ ته کړی، چې په دې سیستم کې تګلارې، ستراتیژۍ او قوانین، پلان، همغږي، مالي او بشري سرچینې، اطلاعات او اړیکې، لوژستیکي او روغتیایي زېربناوې او د سلامتیا، څارنې او ارزونې په موخه د ټولنې ظرفیتونه لوړل شامل دي.

**د روغتیا په څانګه کې د پېښو د مدیریت رول:**

د پېښو په مدیریت کې په خپل وخت او اغېزمنه توګه خدمات وړاندې کول د ځواب وینې له مهمو لومړیتوبونو څخه دي او اړتیا ده، چې په دې برخه کې پرلپسې هڅې ترسره شي. د زمینو برابرولو او د اړینو امکاناتو په رامنځ ته کولو سره پېښځپلي له اړینو ګټو برخمن کېږي او د پېښو د مدیریت په برخه کې د اسانتیاو په رامنځ ته کولو سره د بشري کړاوونو له کمښت څخه ډاډ ترلاسه کېږي.

له نېکه مرغه د افغاني سرې میاشتې د مسؤلینو هڅې بریالۍ دي او د روغتیا په برخه کې د پام وړ پرمختګ شوی دی.

د روغتیا په څانګه کې د پېښو د مدیریت پراخ مسئولیت او رول ته په کتو د پېښو په مدیریت کې د ظرفیتونو لوړل خورا مهم دي. پېښو ته د روغتیایي څانګو ځواب وینه په حقیقت کې د هر اړخیزو روغتیایي خدمتونو وړاندې کول دي، چې په ټوله کې د پېښو مدیریت رانغاړي. دا چې پېښې له مرګ ژوبلې او زیانونو خالي نه وي، نو اړینه ده چې په بېړنیو حالتونو کې ثابت او ګرځند روغتیایي ټیمونه خپلې بېړنۍ کړنې ترسره کړي؛ تر څو د زیانمنېدو او بشري کړاوونو کچه راټیټه شي. دا کار هغه مهال پایله ورکوي، چې د ځواب وینې په برخه کې له وړاندې چمتووالی شتون ولري.

د روغتیا په برخه کې د پېښو د مدیریت مسئولیت هر اړخیزو کړنو ته اړتیا لري، په دې معنی چې پېښو ته په ځواب وینه کې د روغتیا څانګې مسئولیت یوازې په یوه پېښه پورې منحصر نه دی، بلکې د روغتیایي خدمتونو د څانګې وظیفوي مسئولیت د هر ډول طبیعي، غیر طبیعي، چاودنو، اورلګېدنو، رادیولوژیکي او کیمیاوي پېښو او وسلوالو نښتو پورې اړوند دی، چې د پېښو بېلابېلو برخو ته د ځواب وینې لپاره دا اداري سیستم په لاندې کټګوریو وېشل شوی دی:

**فني/ علمي:** دا کړنه د هغو کړنلارو او مقررو لیکلو ته اړتیا لري، چې د کارکوونکو د روزنې، چمتو کولو او برنامو د آزموینښت لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي. د ځواب وینې په برخه کې په فني او عملي توګه د خدمتونو وړاندې کول مطلوبې پایلې رامنځ ته کوي.

**پوهاوی ورکول:** په دې پړاو کې اړینه ده؛ تر څو د پېښو په مدیریت کې ټولنو ته د اړینو روغتیایي کړنو په اړه پوهاوی ورکړل شي. د روغتیا په بېلابېلو برخو کې پوهای ورکول د پېښو پر وړاندې له مخکې د ټولنې د چمتو کولو په موخه ترسره کېږي. همدارنګه پېښځپلو ته دوګړو او سیمه ییزو رسنیو په ملاتړ د افغاني سرې میاشتې د کارکوونکو او رضاکارانو له لوري پوهاوی ورکول یو اړین امر ګڼل کېږي.

**اړیکه/همغږي:** پېښو ته په ځواب وینه، مدیریت او کابو کولو کې د یوې اداري کورنۍ او بهرنۍ اړیکه او همغږي یو مهم اصل ګڼل کېږي. د ځواب وینې ټیمونه له بېړنیو شرطونو وړاندې او وروسته د بشپړې همغږۍ کورنیو او بهرنیو اړیکو په درلودلو سره کولای شي پېښې په غوره توګه مدیریت کړي. همدارنګه د پېښو په مدیریت کې له ملي او نړیوالو خیریه بنسټونو سره درهبرۍ او مسئولینو په کچه اړیکې درلودل په حقیقت کې د پېښو په مدیریت کې ملاتړی رول لوبوي.

**د عملیاتو/ ځواب وینې بهیر:** پېښځپلو ته په چټکۍ، مناسبه او بشپړه توګه د روغتیایي مرستو له رسېدو ډاډ ترلاسه کول د عملیاتي بهیر یوه ځانګړنه ده. د ځواب وینې په مدیریت کې د عملیاتي اړخونو اغېزمنتوب او کیفیت د اداري په خپلواکۍ پورې تړلی دی. د خپلواکۍ اصل د عملیاتي بهیر له ځانګړنو څخه دی، چې افغاني سرې میاشتې په غوره توګه له دې فرصته ګټه اخیستې ده.

پېښو ته له وړاندې چمتووالي او د پېښو د منځ ته راتلو پر مهال پر خپل وخت روغتیایي خدمتونه وړاندې کول د بشري کړاوونو په کابو کولو او راکمولو کې مرسته کوي، نو له همدې امله اړینه ده، چې د پېښځپلو ټولنو اړتیاو ته په کتو پرلپسې ځواب وینه او هڅې وشي. دا کړنه هغه مهال د اجراء کېدو وړ ده؛ تر څو د بشري، مالي او لوژستیکي سرچینو ظرفیتونه او وړتیاوې د ملي او نړیوالو بنسټونو دوامداره ملاتړ له ځان سره ولري.

## طی یک سال ۱۱۳۷۸۱۰ تن زنان از خدمات هلال احمر افغانی مستفید شده اند

از جانب هلال احمر افغانی در یک سال گذشته با ۱۱۳۷۸۱۰ تن زن مواد غذایی، غیر غذایی و پول نقد کمک صورت گرفته است.

به همین ترتیب در روند کمک به متگدیان که اکثریت آنها را زنان تشکیل می دهند، ماهانه مبلغ ۵۶۱۶۰۰۰ افغانی پول نقد برای ۲۸۰۸ تن عضو خانواده های زنان گدا داده شده است.

علاوه بر این، برای ده ها زن بی سرپرست و فرزندان شان در مرستون های هلال احمر افغانی در ولایات کابل، کندهار، ننگرهار، هرات و بلخ تسهیلات زنده گی و تحصیلی فراهم شده است.

به همین گونه، ۱۳۸ تن مریض روانی زن در ولایات کابل، هرات و ننگرهار تحت مراقبت و تداوی قرار دارند. هم چنان در یک سال گذشته، داکتران زنانه و قابله های هلال احمر افغانی به بیش از دو میلیون زن در خانه ها و مراکز صحی، خدمات صحی را ارائه نموده اند.

**هلال احمر افغانی با آسیب دیده گان حوادث طبیعی و غیر طبیعی و آن مناطق که مردم دسترسی به مراکز صحی ندارند، خدمات صحی عرضه می نماید.**



Bi-Weekly

SRA MIASHT

Dissemination Department of ARCS

9th MAR - 22th MAR 2023 _ Volume: 16

## Editorial:

# Preparedness for rainy season

Spring, which also knownas springtime, is the season of refreshment and sprouting of the nature.

We must take full advantages of thisdivine blessing and opportunity and plant seedlings to greeny and beautify our environment and purify the water.

One of the characteristics of human spirituality is to serve humanity.

Actually, only Allah Almighty can givepeace to the minds of his creatures and guide hiscreature from oppression and aggression to the direction of mercy and kindness.

As serving the creature of Allah Almighty is worship, which is the peace and pleasure of mind and body, therefore the spring season conveys the message to serve and bring smile on the faces of the vulnerable, poverty-stricken widows and orphans.

On the other hand, with the arrival of spring season, we should never think that we may keep safe from the hard-nosed natural disaster, because considering the geographical location of our country and the changing climate, many defectivedisasters have taken place in this season and most of the people have bitter memories in their minds.

Moreover, the winter season has passed with all its problems and snow and spring season (rainy season)has arrived,in this season our countrymen are facing new challenges, such asrisks of land slides and flooding are increasing due to unwavering and severe rain falling, the needs of the society are also going upand the lack of access to these challenges can further increase the level of disaster-stricken people.

Likewise, the occurrence of natural disasters, along with destroying the roads, bridges and highways in some areas, also has negative impacts on the life of the people.

Furthermore, in addition to blockades of roads, natural disastersalsocomplicatethe process of respond, which in itself is a big challenge in responding to emergencies and affected people.

Moreover, ARCS has been helping the people, who needs emergency humanitarian aid such as health care services, shelters, food and non-foodstuffs and pure drinking water.

Although,ARCS has been striving and carrying activities in any kind of situationto take careof the health and life of the citizensand has played a vital role in this program as a great duty-obligation.

ARCS is always lookingto figure out and provide effective services to the communities that are faced with hard-nosed natural disasters.

Keeping in mind the past experiences, especially in the existing Islamic system, ARCS has made plans to respond to the affected people of natural disasters, set up the opportunity forits implementation and hastaken fully and necessary preparedness.

Finally, we are not content to it, however,we strive with the help of Allah Almighty to provide moreservices that could figure out all the problems of vulnerable and disaster-stricken people.



## Introduction of 21 children suffering from cardiovascular septal defect by ARCS to hospital for therapy and surgery treatment

